Refugee Legal:

**مهم معلومات**

## د TPVs/SHEVs ویزو تبدیلول په دائمي ویزه

## مهم بدلونونه

فدرالي حکومت اعلان کړی چې د 2023 کال د فبرورۍ له 14مې نېټې وروسته هغه اشخاص چې دمګړۍ د مؤقت مصؤنیت د ویزې **(TPV)** یا **(SHEV)**درلودونکي دي، پخوا یې دغه ویزه درلوده یا یې د دغې ویزې لپاره غوښتنه کړې وي، کېدی شي په وضعیت کې د بدلون دائمي ویزې ( **RoS visa**) لپاره په شرائطو برابر وي.

هغه اشخاص به چې د RoS دائمي ویزه لري د نورو دائمي اتباعو په شان د ورته امتیازاتو لکه کورنۍ سره بېرته یو ځای کېدو ته د لاسرسي امتیازاتو درلودونکي وي.

دا اړینه ده چې خلک د خپلې RoS ویزې په تړاو د خپلو اړونده حقونو په لټه کې شي. دغه معلوماتي پاڼه د لاندې

مواردو په اړه تشریح ورکوي:

- څنګه کولی شئ د RoS ویزه ترلاسه کړئ، او
- څنګه کولی شئ وړیا حقوقي مرسته ترلاسه کړئ.

## د RoS دائمي ویزې لپاره کوم کسان په شرائطو برابر دي؟

تا سو کېدی شي په لاندې شرائطو کې د RoS ویزې لپاره مستحق شئ:

- کله چې تاسو اوسمهال د TPV/SHEV ویزې درلودونکې یاست، یا
- کله چې دا چې تاسو پخوا د TPV/SHEV درلوده، یا
- کله چې تاسو خپلې TPV/SHEV ویزې ته غوښتنه کړې وي او پدې اړه د وروستۍ پرېکړې لپاره په تمه یاست.

که چېرې ستاسو د TPV یا SHEV ویزه پای ته رسېدلې وي، بیا هم کولی شئ د RoS لپاره غوښتنه وکړئ (خو په هغه صورت کې نه چې ویزه مو مسترده شوې وي).

## څنګه کولی شئ د RoS ویزه ترلاسه کړئ؟

1. **هغه اشخاص چې د TPV یا SHEV ویزه لري او ورپسې TPV یا SHEV ته یې غوښتنه نه وي کړي**
   که چېرې تاسو د TPV یا SHEV ویزه لرئ او ورپسې TPV یا SHEV ویزې ته مو غوښتنه نه وي کړې، نو تاسو به اړتیا ولرئ چې د RoS ویزې ته غوښتنه وکړئ.

   دا به په دوو لاندې مراحلو کې ترسره کېږي:

   - **1ی مرحله**: لهفبرورۍ میاشتې نیولې بیا د مارچ تر وروستیو پورې، دTPV/SHEVs ویزې له ځینو درلودونکو څخه به د کورنیو چارو د وزارت(وزارت) لخوا په کتبي ډول غوښتنه وشي چې د RoS ویزې لپاره غوښتنه وکړي. دا وزارت به له هغو اشخاصو بلنه وکړي چې ویزې یې په نیژدې راتلونکې کې پای ته رسي او همدارنګه د نورو هغو دوسیو لپاره صدق کوي چې په لومړیتوبونو کې دي. له هر شخص څخه به په دغه پړاو کې د غوښتنې لپاره بلنه و نه شي. د دغې ویزې لپاره هېڅ ډول غوښتنه وړیا نه ده.
   - **2مه مرحله**: د مارچ له وروستیوTPV/SHEVد ویزې نور درلودونکي اشخاص کولی شي په آنلاین ډول دRoS ویزې لپاره غوښتنه وکړي. تاسو به وکولی شئ د وزارت لخوا له بلنې پرته غوښتنه وکړئ.

2. **هغه اشخاص چې د ورپسې TPV یا SHEV لپاره یې غوښتنه کړې ده**
   که چېرې تاسو د ورپسې TPV یا SHEV لپاره غوښتنه کړې وي یا د وزارت لخوا ستاسو غوښتنه نه وي نهایي شوې، نو پدې صورت کې تاسو اړ نه یاست چې دRoS ویزې لپاره غوښتنه وکړئ. دTPV/SHEV ویزې لپاره ستاسو فعلي غوښتنه به په اتومات ډول دRoSویزې غوښتنې ته واوړي او ستاسو لپاره اړتیا نشته چې پدې اړه څه ترسره کړئ. وزارت به تاسو سره د هر ډول معلوماتو لپاره ستاسو د اړتیا په صورت کې تاسو سره په اړیکه کې شي ترڅو ستاسود دوسیې تعقیبول پای ته ورسوي.

3. **هغه اشخاص چې د خپلې اساسي TPV یا SHEV ویزې د غوښتنې په تړاو وروستۍ پرېکړې ته په تمه دي**
   که چېرې تاسو خپلې لومړۍ TPV یا SHEV ته غوښتنلیک وړاندې کړی وي او پدې اړه مو لا پرېکړه نه وي ترلاسه کړې، نو وزارت به ستاسو د دوسیې په اړه خپلې ارزونې ته دوام ورکړي. که چېرې ستاسو دوسیه منل شوې وي، نو دا به په اتومات ډول دRoSویزې ورکړې ته تغیر شي. که چېرې ستاسو دوسیه د وزارت لخوا رد شوې وي خوIAA, AAT یا محکمې ته ستاسو استیناف غوښتنه منل شوې او وزارت محول شوې وي، نو پدې صورت کې به تاسو دRoSویزې لپاره په شرائط برابر ګڼل کېږئ.

## څنګه کولی شئ حقوقي مرسته ترلاسه کړئ

دا مهمه ده چې تاسو د دغو بدلونونو په تړاو د حقوقي مرستې په لټه کې شئ. په وېکټوریا او سوېلي آسترالیا کې د وړیا حقوقي مرستې لپاره، د کډوالو سره د حقوقي مرستې د دفتر سره په لاندې ډول په تماس کې شئ:

- کډوالو لپاره د حقوقي مرستې د دفتر د **TPV/SHEV** د مکالمې د کرښې سره چې له دوشنبه تر جمعې د سهار له 9.00بجو د مازدیګر تر 5.00 بجو پورې په 0133 9413 (03) شمېره په اړیکه کې شئ.
- برېښنالیک: RoSVisa@refugeelegal.org.au
- وېب پاڼه: www.refugeelegal.org.au